# چاپیریال ساتنه لوی الهی نعمت او ساتنه ئې امانت دی

**د ابو نافع حمیدی لیکنه**

الله پاک انسان د ټولو مخلوقاتو غوره پیدا کړي او دا نور ټول کائنات او مخلوقات ئې دده د چوپړ، سوکالۍ او ښه معیشت لپاره پیدا او استخدام کړي او دا انسان ته ئې دومره آزادی هم نده ورکړي چې هرڅه ئې زړه وغواړي هغه وکړي، د خپل ځان او نورو الهی مخلوقاتو د تباهۍ اوژوندانه د تریخوالی لامل شي، بلکه دا ئې ورته امر کړي چې پدی نړۍ کې آبادوونکی او جوړوونکی وی نه ړنګوونکی او تباهکار!

دهمدغه معیار په اساس ئې له ټولو هغو کارونو څخه منع کړي چې خپله دغه انسان او ورسره نور کائنات په تعذیب او ستونزو ککړ شي، دغه انسان ته ئې امر کړي چې ددغه نړۍ، چاپیریال چې الهی نعمتونه پکې ستا د ښیرازۍ او سوکالۍ لپاره زښت ډیر دي، ورڅخه سالمه ګټه پورته او دنورو په حق خیټه و انه چوي.

د چاپیریال موضوع چې نن سبا ډیره یادیږی او یقیناً ډیره مهمه هم ده ځکه د ټولو مخلوقاتو د ژوند سمون یا بدلون ورپوری تړلی دي او متأسفانه بشریت ورته په دومره مهمه سترګه نه ګوری، په واړه او سترکچ سره بشر لګیا دي دغه ښکلی چاپیریال تخریبوی.

که څه هم ددغه موضوع په اړوند ټول انسانان مسؤولیت لري چې دخپل ماحول او چاپیریال ښه ساتنه او پالنه وکړي خو په لوړه سطحه دا وچ صنعتی کړندی تمدن د ټولو مخلوقاتو ژوند په خطر کې اچولی.

ننۍ تمدن ددی پرځای چې هغه په یوه خوندی او مسئون پناه ځای بدل کړي، بالعکس د ناروغیو منبع ئې وګرزوله خوکه چیرې د اسلام مقدس دین د ارزښتناکو لارښوونو له منظره دا موضوع وڅیړو، نو دا اسلام نازنین دین دغه موضوع ته ډیر ارزښت ورکړي، نظافت او پاکی ئې د ایمان مهمه برخه بللی، نورو ته ضرر رسول ئې حرام کړي، د طبیعت دا ښکلی چاپیریال ئې امانت بللی چې باید تخریب نشی، دری مهم عناصر (اوبه، هوا او خاوره) ئې هغه څیزونه یاد کړي چې الهی نعمات پکې له ورایه ښکاری او نه یوازی د انسانانو بلکه، د حیوانانو، نباتاتو او ټولو ساکنانو لپاره ئې د روزۍ اوژوند تېرولو مهم وسایل بللی.

الله پاکﷻ ځمکه پیدا کړه او دټولو ذیروحو مخلوقاتو د استوګنی لپاره ئې برابره او ټول هغه اسباب ئې پکې برابر کړل چې ددوی دژوند لپاره ضروری دي.

الله تعالی فرمائي: ﴿أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ كِفَاتًا أَحْيَآءً وَأَمْوَٰتًا...﴾ المرسلات: ۲۵ – ۲۶

**ژباړه**: آیا نده مو ګرځولی ځمکه جمع کوونکی( په شاه خپلی) ژوندیو او مړو لره( په ګیده خپله کې)؟

الله پاک په دغه ځمکه کې اوبه را پیدا کړي چې اوبه خود ټولو ژوندیو موجوداتو د ژوندی پاته کیدو، ووی، روغتیا او.... لپاره حیاتی حیثیت لري، الله تعالی په دی اړه فرمائی: ﴿أَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعَىٰهَا﴾ النازعات: ۳۱

**ژباړه**:او له دغه ځمکې نه مو اوبه او د دوی د خوراک توکې را و ایستل.

او فرمائي: ﴿أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَتُصْبِحُ ٱلْأَرْضُ مُخْضَرَّةً...﴾ الحج: ۶۳

**ژباړه**: یعنی اوبه ئې له آسمانه راکوزی کړی چې په هغې سره ځمکه شنه زرغونه شوي.

الله پاک د بشر مایحتاج ټول شیان په دغه ځمکه کې ورته پیدا او مهیا کړي، د ښه ژوند لپاره ئې مختلف وسایل او د سوکالۍ اسباب ټول ورته برابر کړل، لکه چې پدی اړوند الله تعالی فرمایلی: ﴿وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَٰيِشَ...﴾ الأعراف: ۱۰

**ژباړه**: ستاسو د ژوندانه وسیلې مو په ځمکه کې پیدا کړي.

همدا رنګه فرمائي: ﴿...وَبَٰرَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَآ أَقْوَٰتَهَا...﴾ فصلت: ۱۰

**ژباړه**: یعنی الله پاک په ځمکه کې برکت کېښود او خوراکونه ئې په اندازه سره پیدا کړل.

الله جلت عظمته د کائناتو ډیر مهم مخلوقات چې پیدا کړي نو د انسان د ګټې اخیستنی او کارونی لپاره ئې ټول ورته مسخر، تابع او رام ګرزولی، چې ترې ګټه واخلی، او هریو په خپل ذات کې ډیر محیرالعقول او عظیم الشأن مخلوق دي او د هریوه څخه استفاده او ګټه اخیستنه خاص اهمیت لري.، الله پاک(ج) په مختلفو آیتونوکې خپل دغه مسخر شوی نعمات انسان ته داسې یادوی:

- ﴿ سَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡبَحۡرَ . . . ﴾ الجاثية: ١٢ او تاسو مو بحر مسخر کړي.
- ﴿ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡأَنۡهَٰرَ . . . ﴾ إبراهيم: ٣٢ تاسو ته مو رودونه تابع کړي.
- ﴿ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ ﴾ الحج: ٦٥ تاسو ته مو هغه چې په ځمکه کې دي مسخر کړي.
- ﴿ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ ﴾ إبراهيم: ٣٣ تاسو ته مو لمر او سپوږمی مسخر کړل.
- ﴿ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ ﴾ النحل: ١٢ تاسو ته مو شپه او ورځ مسخر کړل.
- ﴿ وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ ﴾ الجاثية: ١٣ تاسو ته مو ټول هغه څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي، مسخر کړل.

لمرئي د انسان په تسخير کې ورکړ، هغه چې په کال کې د څلورسوه زرو کيلو مترو مکعبو په شاوخوا کې اوبه ځمکې ته د باران، واورې او ږلۍ په شکل را اوروي او د هرڅه د ژوند سبب کيږي، لکه چې الله تعالی فرمائي: ﴿ وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّ ﴾ الأنبياء: ٣٠

**ژباړه**: او له اوبو نه او په اوبو سره مو هرشی ته ژوند ورکړی.

دغه لمر په خرواړونو انرژۍ ورکوي چې له حد او حساب څخه بهر ده، نباتاتو ته شين يا نورارزښتناک رنګ ورکوي او داسې شکل ته ئې اړوي چې په ليدلو سره ئې انسان خوشيږي چې هغه وخوري.

لمر په ټاکلی اندازه سره خپلې وړانګې ځمکې ته ليږدوي او د کال د مختلفو فصلونو په بڼه سره هريو خاص اهميت لري چې له امله ئې تودوخې، رڼا او پاکوالی راځي او د رنګارنګ ميکروبونو د له منځه وړلو لامل کيږي.

ځمکه يې انسان ته مسخره کړه، چې په کې حيوانات او نباتات ژوند کوي او دا دواړه په اصل کې د انسان خواړه جوړوي، په دې ځمکه کې داسې ژوندی موجودات اوسيږي چې چاپيريال له ککړتيا څخه ژغوري، او لاتر اوسه پورې د ساينس دغه نړۍ ندی کشف کړي.

عضوی او غيرعضوی مواد ئې پيدا کړي چې د انسانانو په شمول د ټولو ژونديو موجوداتو خواړه تشکيلوی.

انسان لا له پخوا نه په دی پوهيده د هغه علم په اساس چې الله تعالی ورته ورکړی ؤ چې ژوندئې په فيزيکی لحاظ په چاپيريال پوری تړلی دي چې هغه ته هوا ويل کيږي، ترڅو تنفس وباسی، آکسيجن ګاز او نور مهم ګازونه ئې د ژوندی پاته کيدو مهم عناصر دي، د هوا له ګرمی او يخنی نه په مختلفو موسمونوکې مختلفی ګټی ترلاسه کوي او دا انرژی لمر ورکړې په همدا چاپيريال کې د نباتاتو او حيواناتو څخه اوبه او خواړه ترلاسه کوي.

دهغې مالکې نه چې له کانونو څخه ئې پلاس راوړی او خپل خواړه ورباندې خوندورکوي، له همدې مځکې نه ئې په لاس راوړي چې د چاپيريال يو مهم عنصر دي، له همدغه چاپيريال څخه داسې مواد ترلاسه کوي چې ځانته ترې جامې، سامان او د اوسيدو ځايګی (کور) جوړوي څود زياتی ګرمی او يخنی نه په امن او په کې سوکاله پريوزی...

الله پاک(ج) انسان ته د هغه د اړتياوو په اندازه د تصرف او استفادی حق ورکړي چې د اوبو له نعمت څخه د ډول ډول انرژی د توليد، څښلو، خمکې خړوبولو او نورو مقاصدو په مقصد ګټه واخلی، اسراف په کې ونکړي او د نورو حق ضايع نکړي، له ککړتيا څخه ئې ډډه وکړي، او له هرډول نبات څخه چې غواړي د خوړو په حيث کار واخلی. حيوانات ئې انسان ته مسخرکړل چې ورڅخه په مختلفو انواعو سره ګټّ ترې واخلی، غوښه او شيدی ئې وخوری، له پوستکی څخه ئې ګټه واخلی، وړی ئې د خپل ژوند د هوسايئی په موخه وکاروی، ورڅخه د باروړلو او نورو موخو او فعاليتونو کې کار واخلی.

الله پاک د حيواناتو مهم رول ته د انسانانو په ژوند کې داسې يادونه کوي: ﴿ وَٱلۡأَنۡعَٰمَ خَلَقَهَاۖ لَكُمۡ فِيهَا دِفۡءٞ وَمَنَٰفِعُ وَمِنۡهَا تَأۡكُلُونَ وَلَكُمۡ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسۡرَحُونَ وَتَحۡمِلُ أَثۡقَالَكُمۡ إِلَىٰ بَلَدٖ لَّمۡ تَكُونُواْ بَٰلِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ ٱلۡأَنفُسِۚ إِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ وَٱلۡخَيۡلَ وَٱلۡبِغَالَ وَٱلۡحَمِيرَ لِتَرۡكَبُوهَا وَزِينَةٗۚ وَيَخۡلُقُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ . . . ﴾ النحل: ٥ – ٨

**ژباړه**: د الله پاک څاروی پيدا کړي چې تاسو لپاره په کې د ګرميدو، خوراک او نورې ګټې دي، او ستاسو لپاره د زينت او ښايست وسيلې دي چې کله له کوروځی او بيا بيرته کورته راځی، او ستاسو درانه بارونه هغو ځايونو ته وړي چې تاسو ئې په ډير نفسی مشقت سره هلته وړي، يقيناً چې الله پاک ستاسو ډير مهربانه او ښوونکی دي، آس، قچر، او خر الله دی لپاره پيدا کړي چې تاسو ورباندی سپاره شی او ستاسو د زينت څاروی دي، او الله پيدا کوي هغه څه چې تاسو ئې په حکمت نه پوهيږي.

دا ټول نعمتونه چې کله انسان ته ډالی کړي او د کائناتو ټول مخلوقات ئې ورته په چوپړ کې وکړی ددی په خاطر چې هغه دا نړۍ آباده کړي، لکه الله پاک چې فرمائي: ﴿ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ وَٱسۡتَعۡمَرَكُمۡ فِيهَا . . . ﴾ هود: ٦١

**ژباړه**: چې الله پاک هغه ذات دي چې تاسوئې له ځمکې نه را پيدا کړي او له تاسو څخه ئې وغوښتل چې هغه آباده کړی او هر څوک چې د آبادولو او ودانولو صلاحيت ولري، نو هغه د پآيښت وړدي، لکه چې الله تعالى وفرمايل: ﴿أَنَّ ٱلْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِىَ ٱلصَّـٰلِحُونَ﴾ الأنبياء: ١٠٥

**ژباړه**: په يقين سره د ځمکې وراثت زما صالحو بندګانو سره دي.

کله چې انسان د ځمکې په آبادولو، چاپيريال پاک ساتلو، نورو ته په ضررنه رسولو مأمور او مکلف شو، نو دا دنده هم لري چې داسې شی توليد يا ونه کاروی چې چاپيريال ته پکې د فساد، تاوان، ضرر او تخريب لامل کيږي، نن سبا چې ګورو زموږ دا ښکلی چاپيريال چې له ناورين سره مخ دي، هغه د همدغه انسان د فساد کولو، او له خپل حريم ته تجاوزکولو او د بشريت لپاره د تباهی کوهی ايستلو اعمال دي چې ټول بشريت او چاپيريال ئې خراب کړي.

فساد کول په ځمکه کې ناروا دي، الله پاک فرمائې: ﴿وَلَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَـٰحِهَا ۚ...﴾ الأعراف: ٨٥

**ژباړه**: په ځمکه کې فساد مه کوي وروسته د اصلاح نه.

په بل ځای کې الله پاک فسادته اشاره کړي او فرمايې: ﴿ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِى ٱلنَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ ٱلَّذِى عَمِلُوا۟ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾ الروم: ٤١

**ژباړه**: د هغو ناجايزه اعمالو له کبله چې خلکو وکړل، په وچه او اوبو کې فساد راڅرګندشو، الله پاک د ځينو عملونو عذاب وروڅاکه، څو د خپلو ناوړه عملونو څخه بيرته را وګرځی.

نن سبا چې نړی د چاپيريال له ککړتيا سره مخامخ ده، يوازنی علت ئې همدغه انسانی تمدنی افراطيت، فساد او زياتی دي اتومی انرژی، وژونکی وړانګی او نور داسې کارونه دي چې چاپيريال ئې خراب کړي، که چيرې مخ پرووده او پرمختللی هيوادونه او په عامه سطحه ټول بشرورته پاک و نکړی او دغه چاپيريال يو الهی نعمت او امانت ونه وبولی او د خپل سر او خپلې خوښی کارونی او په غلطه او ناجايزه او نا قانونه توګه ورڅخه استفاده کوي، نو بيابه خدای مکړه ټول بشريت او ټوله نړی له يوه ستر ناورين سره مخامخ شي، او هلته به بيا پښيمانتيا او هيڅ ډول تدابيرو نه چليږي.

الله فرمائې: ﴿لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ ۖ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِى لَشَدِيدٌ﴾ إبراهيم: ٧

**ژباړه**: ای بندګانو! که چيرې مو زما شکرو ايست نو زه به خپل نعمتونه تاسو ته ورډيرکړم او که مو کفران وکړنو زما د عذاب انتظارکوي او زما عذاب ډير سخت دي.

د نن ورځې ټول بشر دا ناری وهی چې چاپيريال له ستونزو سره مخ دي، حتی هغه هيوادونه چې طغيان اتومی زروی وړانګی خپروی او يوازی د دغه بشريت د هلاکت اهداف لري، تر نورو ډيرې چيغې وهی چې هوښيار او بيدار اوسئ، چاپيريال له خطر سره مخامخ دي!!

بايد بشريت او بشری نړی په ډير اخلاص، پوره هوډ او ګډه سره د چاپيريال ښه ساتلو، زرغونيدلو او له خطرونو څخه د خلاصون ګټوروقايوی تدابيرونيسی او په عمل کې ئې پياده کړي، او موږ د مسلمانانو په صفت ټولی نړی ته دا اعلان کوو چې راځی د هرې ناروغی درمل پټی او د هرې ستونزی حل زموږ له دينه واخلی ځکه دا هغه دين دي چې ارشادات او لارښوونی به ئې د قيامت تر ورځې پورې چليږي او د هرزمان او مکان مناسب ارشادات لري.

د يوه ښکلی سمسور، رزغون، آرامه او سوکاله چاپيريال په هيله.